مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نعمان دوست ۲۰۲۶/۱۱/۱۸

دا خو به د سپي غوښه نه وي؟

په هغه غرمه له دوو ملګرو سره، يو مشهور روش ته تللي وو.
زمونږ يو شوخ مزاجه ملګري، غوښه راپورته کړه او بيا يې ويل:

دا خو به د سپي نه وي؟

زما خو دي خبري بيخي زړه بد کړ؛ خو چاره نه وه خوراک ته مو ادامه ورکړه.
د ملګري طاقت ونسو، د رستورانت شاګرد يې را وغوښت او ورو يې تري وپوښتل:
دا خو به د سپي غوښه نه‌وي؟

هغه حيران سو او په غوسه يې وويل: مونږ درته کافران ښکارو؟

ملګري ورته ويل: کافران خو دي برخه کې نه دي؛ ښکاره درته وايي چې دا د خنځير غوښه ده، دا د سپي ده او دا...

مشکل خو زمونږ دی.

ما يې بحث پرې کړ. ما ويل که شپې خوب کې له مونږ څخه چا وغپل نو پوه شئ چې...

خو شکر، شپه ارامه تېره شوه.

دا داسې وخت و چې تازه کابل کې د خرو او سپيو غوښه پلورونکي نيولي شوي وو.

کيسه دا ده چې تازه تازه د رستورانتونو کاروبار کش نيولی او ډېرو خلکو ته کاري فرصتونه برابر شوي دي؛ خو که د مړو چرګانو د پلور کيسه دوامداره سي؛ خلک به بيخي رستورانټ ته زړه نه نکړي او په دې برخه کې به هم سقوط رامنځته شي.

نو،

له خدايه وډار شئ، له دغسې ناولي، سپک او شرمېدلي کاره لاس واخلئ.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له مونږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ